# چا چې د مازدیګر لمونځ پرېښوده نو یقینا چې عمل یې برباد شو

له بریده بن الحصیب رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې: د مازدیګر لمونځ وختي وکړئ، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: « چا چې د مازدیګر لمونځ پرېښوده نو یقینا چې عمل یې برباد شو».
[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مازدیګر د لمانځه په اړه خبرداری ورکړی چې په قصدي توګه له ټاکلي وخت څخه وروسته ادا شي (قضا شي) او دا چې چا دا کار وکړ نو عمل یې باطل او فاسد شو، او بې ځایه لاړ.